ICRC

افغانستان: حقایق او شمیري – د ۲۰۱۵ له جنوري تر سپتمبر پورې

په افغانستان کې د آی سي آرسي کار د بندیانو په لیدلو چې د هغوی د ژوندانه شرایط او له هغوی سره د چال چلند ارزونه، د مرستو او روغتیا ځارنې برابرولو، بندیانو ته د ځښلو اوبو برابرولو او روغتیا ساتنې ته لاسرسی، د هغو کورنیو غړي چې د جګړې له امله جلا شوي ښیرته یو ځای کولو او د افغاني سري میاشتې ټولنې سره په ګډ کار تمرکز لري.

په افغانستان کې د سره صلیب نړیوالې کمیټې د فعالیتونو لنډیز د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ تر سپتمبر پورې په لاندې ټوګه دی.

د توقیفځایونو لیدنه او د کورنیو تر منځ د اړیکو ټینګول

- له ۳۰ زندانونو ځخه یې ۷۹ لیدنې ترسره کړې (په دغو توقیفځایونوکې ۲۶۰۰۰ تنه بندیان ساتل کیدل)
- ۱۵۰۰ تنه زندانیان یې په انفرادي توګه لیدلې چې د جګړې په تړاو نیول شوي وو چې له دغې ډلې ځخه یې ۶۹۱ د لومړي ځل لپاره کتلې دي؛
- ۴۴ خوشې شویو زندانیانو سره یې مرسته کړې، چې خپلو کورونو ته ستانه شي.
- د افغاني سري میاشتې ټولنې په همکارۍ یې د سره صلیب ۲۰۰۰ پیغامونه راټول او ۱۹۰۰ یې ویشلیدي، چې ډیرۍ یې د بندیانو او د هغوی د کورنیو ترمنځ وو.
- هغو کورنیو ته یې ۴۰۰۰ ټیلیفوني آسانتیاوې برابرې کړیدي، چې خپلوان یې د افغانستان په زندانونو کې بندیان دي.
- د هغو بندیانو لپاره چې په توقیفځایونوکې دي له خپلې کورنۍ سره د ۳۳۵۰ مخامخ لیدنو آسانتیاوې برابرې کړیدي او آی سي آر سي دغو کورنیو ته د تګ راتګ آسانتیاوې هم برابروي.
- د هغو بندیانو لپاره ، چې د ځرخي پله په بندخونه کې دي له خپلې کورنۍ سره د ۲۳ مخامخ لیدنو آسانتیاوې برابرې کړي دي.
- آی سي آرسي ۱۴۰ د نیول کیدو دوسیې لیدلي او د موندلو ۲۵۷ غوښتنې له آی سي آرسي شوي چې له دغې ډلې ځخه۱۱۶ موندلو دوسیې په بریالیتوب سره حل شویدي.
- خپلو خپلوانو ته یې د ۱۶۳۷ هغو مړیو د لیږد چارې برابرې کړې چې د جګړې په ډګر کې پاتې وو.

روغتیا

- میرویس او شبرغان روغتونونو له ۴۹۰۰۰ ځخه ډیر ناروغان په جراحي، داخلي، نسایي او ولادي ځانګو کې منلي دي. ۳۱۹۰۰۰ سر تر پښو ناروغانو درملنه شوې او په دغو دوه روغتونونوکې ۱۵۰۰۰ عملیاتونه ترسره شوي دي.
- د افغانستان په ختیځ کې د کنړ ولایت د کورنګل فرعي روغتیایي مرکز ته یې میاشتنې روغتیایي او ناروغتیایي مرستې ورکړیدي.
- د کندهار ولایت د سرپوزی له زندان ځخه یې د زندانیانو د روغتیایي وضعیت ارزوني په موخه ۱۸۳ لیدنې ترسره کړې دي.
- د افغاني سري میاشتې ټولنې له ۴۷ کلینیکونو او په ټولنه کې میشت د لومړنیو مرستو خپلخوښو سره یې د درملو، تخنیکي او مالي مرسته کړېده. پدې ۴۷ کلینیکونو کې د ۷۳۲۰۰۰ سر تر پښو ناروغانو درملنه شوې او ۳۹۲۰۰۰ ډوزه د پولیو او نورو ناروغیو واکسین کوچنیانو ته تطبیق شوي دی.
- له ۱۴۸۰ ځخه د ډیرو ټپیانو لیږدول د جګړې له ډګره روغتیایي مرکزونو ته تر سره شویدي.
- ۷۲۶ کسانو ته له ټپیانو سره د لومړنیو مرستو د ترسره کولو زده کړې ورکړل شویدي.
- د کندهار د میرویس روغتون د جامو مینځلو برخې د جوړولو د ودانیزو کارونو لړې روانه ده او په همدې روغتون کې د ماشومانو او نویو زیږیدلو ماشومانو ته د نویو ځانګو جوړیدو ډیزاین بشپړ شویدی.
- د شبرغان په روغتون کې د عاجل واټ د جوړولو لومړني امکانات او ډیزاین چارې بشپړې شویدي.
- د بدخشان په فیض آباد ښار کې د فزیکي بیارغوني مرکز ځخه د ستنږد دیوال جوړولو ودانیزې چارې بشپړې شویدي. دا چاره د ساتنې او ښو خدماتو د وړاندې کولو په موخه ترسره شوه. (نوي جوړ شوي دیوالونه په سیمه کې زلزلو ته په کتلو په ستنږد جوړ شوي دی)
- په کابل کې د فزیکي بیا روغونې په مرکز کې د مرکز ګرمۍ د سیستم جوړولو چارې پر مخ روانې دي. ځلور مرکزي ودانیو او اووه فرعي خونو ته د مرکز ګرمي سیستم وغځیده.

ارتوپیډي او د فزیکي بیارغوني خدمتونه

- ۶۹۰۰ نوي ناروغان یې راجستر کړي، چې ۹۱۸ یې هغه کسان وو چې د بدن غړي یې له لاسه ورکړي وو.
- له ۱۰۰۰۰۰ ناروغانو سره یې په خپلو اوو ارتوپیډیکي مرکزونو کې مرسته کړې ده.
- ۱۴۰۰۰ مصنوعي غړي او خوځښتي وسیلې یې جوړې کړیدي.
- ۱۹۷۰۰۰ فزیوتراپیکي درملنې یې کړیدي.
- ۴۴۷ ناروغانو ته یې کوچني پورونه ورکړي، چې د دغو ورکړل شویو پورونو سره کار پیل کړي.
- د ۵۳۷ ناروغانو مسلکي روزنه یې برابره کړې چې لا هم روانه ده، چې ۱۳۵ تنه یې په ۲۰۱۵ کال فارغ شوي دي.
- په کور کې د پاملرنې د پروګرام له لارې یې د ناروغانو ۶۲۰۰ لیدنې کړې، چې د ملا د بندونو ۴۹۰۰ ناروغانو سره یې مرسته کړې او د هغوی کورنۍ یې روزلې دي، چې له هغوی سره مرسته کوي.

د خوړو او نورو مرستو ویش

- آی سي آرسي د افغاني سرې میاشتې ټولنې سره په همغږي ۸۹۰۰۰ کسانو ته لومړنې مرستې لکه کمپلې او د روغتیا ساتنې کڅوړې ویشلې دي.
- آی سي آرسي د سیمه ییزو ټولنو سره د نغدو پیسو په بدل کې د کار پروژې بشپړې کړیدي؛ لکه د خړوبولو شبکې، استنادي دیوالونه او د اوبو ورونه. له ۱۰۰۰ تنو څخه ډېرو د اغیزمنو کورنیو غړو په دغو پروژو کې د کارکوونکو په توګه کار کاوه چې د کار په بدل کې یې نغدې پیسې یې ترلاسه کړې.
- د نغدو پیسو په بدل کې د کار ۱۵ پروژې بشپړې شویدي چې پدې سره د بزګرانو د تولید او اقتصادي لوړوالي زمینه مساعده شوې ده.
- ۱۵۴ کورنیو (۱۶۸۰ کسان) نقدي مرستې د ټپیانو د درملنې او هغه کسانو د تدفین د مراسمو لپاره ترلاسه کړې چې په جګړه کې یې ژوند له لاسه ورکړی او یا هم ټپیان شوي وو.
- د فراه په ولایت کې له ۲۵ هغو بې وزله میرمنو سره چې د خپلې کورنۍ سرپرستي یې ورپرغاړه وه د چرګانو د ویش مرسته ترسره شوه، هرې کورنۍ ته ۲۵ چرګان (۲۴ چرګې او یو چرګ) او همدارنګه د چرګانو د سمبالولو په هلکه زده کړې او ورسره د چرګانو ساتلو لپاره جال او خواړه وویشل شول تر څو پدې توګه له خپلو کورنیو سره په مالي برخه کې مرسته وکړي.
- آی سي آرسي د ۸۶ مرستیال وترنرانو سره د درملو مرسته کړې، تر څو دوی وکولای شي د ځاروبو له خاوندانو سره د ځاروبو د روغتیا ساتنې او د تولیداتو د ډیروالي په برخه کې مرسته وکړي.
- د ۳۳۰ څخه زیاتو ځاروبو لرونکو کسانو ته یې د ځاروبو د ساتنې ښوونه ورکړېده، چې د خپلو ځاروبو ښه ساتنه وکړي او د تولیداتو د ډېروالي په پایله کې یې ورځنی عاید ډېر شي. همدا راز ځاروبو لرونکو بزګرانو ته د مرستو داسې کڅوړې ورکول شویدي چې د ځاروبو د خوړو او د لښیاتو لوښو پکې شتون درلود.

د اوبو او روغتیا ساتنې خدمتونه

- لاسي پمپونه یې لګولي دي او د هغې د ساتنې او ځارنې په موخه یې خلکو ته روزنه ورکړې ده، چې پدې توګه ۱۹۰۰۰۰ تنه د پروان، بامیان، دایکندي ، غزني، کاپیسا، ننګرهار، پکتیا، خوست، هرات، بادغیس، فراه، بلخ او فاریاب ولایتونو په کلیوالي سیمو کې پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.
- د ځرخي پله په زندان کې (چې کابو ۸۵۰۰ بندیان پکې ساتل کیږي) د بندیانو او د کورنیو د لیدنو لپاره د انتظار خونه جوړه کړیده.
- ۴۴۰۰ زندانیانو لپاره یې د کابل د ځرخي پله په زندان کې د اوبو رسولو سیستم رغولی دي.
- د بلخ او هرات ولایتونو په زندانونو کې یې د بیارغوني چارې ترسره کړې چې ګټه یې تقریبا ۴۰۰۰ بندیانو ته رسیږي.
- په لښکرګاه ښار کې د فزیکي بیاروغوني نوی مرکز ګټې اخیستنې ته پرانستل شو. پدې مرکز کې له ۴۰ زیات معلولیت لرونکي کسان دنده ترسره کوي او هره ورځ ۱۰۰ کسان د درملنې لپاره ورته مراجعه کوي.
- د فراه په ولایتي زندان کې د اوبو د رسولو سیستم د ډیزاین تخنیکي چارې بشپړې شویدي. (د فراه ولایت په ولایتي زندان کې د ۷۵۰ شا او خوا کې بندیان ساتل کیږي.)
- د هرات له زندانه د ناپاکو اوبو د ویستلو د سیستم د جوړیدو ځیرنه پیل شوېده.
- ۳۶۹۰۰ کسانو ته د روغتیایي توکو د کڅوړو ویش، چې ۸۵ په سلو کې په زندانونو کې بندیانو ته ویشل شویدي.
- د کندز د ولایتي زندان د جوړیدو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته چمتو شو، په ورته حال کې د کابل ، هرات او جوزجان د ولایتي زندانونو د بیا جوړونې کارونه روان دي.
- د پروان ولایت د بګرام په زندان کې د لیدنو خونو تخنیکي ځیرنې پیل شویدي. (د بندیانو د زیاتوالي له امله ورته اړتیا لیدل کیږي.)

له افغاني سري مياشتي ټولنې سره ګډ کار

- د روغتيا، اړمنو کورنيو سره د مرستې، د کورنيو د غړو بيا يو ځاي کيدل او د بيرنيو حالاتو لپاره د تياري په برخو کې په اتو پروژو باندې کار پيل شو. دغه پروژې (۲۰۱۵ تر ۲۰۱۷ کال) د قرار داد په بنسټ چې پکې د بشري فعاليتونو ژمنه شوې ترسره شوې دي.
- د کال په نيمايي کې د عملياتي پلان څيړنې تر سره شوې، چې د کارونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ارزونه وشي. د دې کار د ترسره کولو لپاره د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال فدراسيون، د کانادا هيواد سره صليب او آی سي آرسي برخه لرله.
- د سره صليب او سرې مياشتې د نړيوال غورځنګ د تاريخ، اساسي موخو او د پيژندګلوي په موخه يو ورکشاپ د ولسمشر استازی ته جوړ شو، نوموړی به د ولسمشر او د افغاني سرې مياشتې ټولنې تر مينځ د آسانچاري په توګه فعاليت کوي.
- د ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۵ کال د ستراتيژۍ څيړنه او د نوې ستراتيژۍ لپاره ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۲۰ پورې د ځانګړو موخو، عملياتونو او ارزښتونو څرنګوالی ترسره شو. پدې ناسته کې د سره صليب او سرې مياشتې د نړيوال فدراسيون استازو، د سره صليب د نړيوالې کميټې او د ملګرو ملتونو استازو او همدارنګه د دولت د بيرنيو حالاتو په وړاندې د غبرګون کميټې استازي ګډون درلود.
- د بيرنيو حالاتو په وړاندې د تيارۍ لپاره د معلوماتو او تجربو شريکولو په موخه غونډې د منځنۍ آسيا هيوادونو د ملي ټولنو ترمنځ په جلا جلا توګه په تاجکستان کې تر سره شوې. پدې ناستو کې د تاجکستان، ترکمنستان، قزاقستان او قرغزستان د ملي ټولنو غړو برخه لرله.

د نړيوال بشرپالونکي قانون د منلو پراختيا

- د آی سي آرسي د کار او هوډ په هکله ۲۵۴۰۰ تنو ته معلوماتي غونډې په لار اچول شويدي، چې د مدني ټولنو غړو، مشرانو، مذهبي مشرانو، د ولايتي شوراګانو غړو، سياسي چارواکو، د نا دولتي موسسو کارکوونکو، د افغان ملي اردو او پوليسو غړو، ځايي او سيمه ييزو پوليسو، د ملي امنيت د رياست غړو، وسله والو مخالفينو او هغو کسانو چې له آی سي آر سي څخه يې مرسته ترلاسه کړې پکې ګډون درلود.

د لا ډيرو معلوماتو لپاره لاندې شميرو سره اړيکه ونيسئ:

اوليوير موکلي ، آی سي آر سي کابل، د اړيکې شميره : ۰۰۹۳۷۲۹۱۴۰۵۱۰

زرلښته سرمست، آی سي آر سي کابل ، د اړيکې شميره: ۰۰۹۳۹۷۴۶۱۸۹۰۸